# داوطلبۍ ته بلنه

# داخلي پرانيستې داوطلبي

پروژه: د افغانستان بانک کارمندانو لپاره د معدني اوبو چمتو او تدارک کول

داوطلبۍ ته د بلنې شمېره:DAB/1402/NCB/G10

۱. د افغانستان بانک رياست په پام کې لري څو د 1402 کال لپاره د ځانګړو شويو وجوهو يوه برخه د پورته يادې شوې پروژې لپاره د DAB/1402/NCB/G10 داخلي پرانيستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمريت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرايطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د يادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرايطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { د تحويلی د جدول مطابق } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانيستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې يادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شويو په شرايطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانيستې ده.

۵. په شرايطو برابر ټول ليوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ويب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (rahman.zarin@dab.gov.af) برېښناليک او يا هغې پتې څخه چې لاندې يې يادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

۶. آفرونه بايد لاندې پتې ته د سه شنبې ورځ سهار له {10:00} بجو مخکې 1402/04/13 وسپارل شي. د يادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسيدلي او الکترونيکي آفرونه د منلو وړ نه دي.

۷. ټول آفرونه بايد د آفر د تضمين د لانديني مبلغ سره يوځای وسپارل شي.

آفر تضمين: بانکي تضمين يانقدی پيسی

۸. د آفر د تضمين مبلغ ( 39,725) نه ديرش زره او اوه سوه پنځه ويشت افغانۍ

د آفر د تضمين: بانکي تضمين د آفر د اعتبار له مودې څخه 28 ورځې وروسته اعتبار ولري. يعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1402/04/13 څخه تر 118 ورځو پورې يا د تمديد شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمديد شويو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د 15.2 مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

يادښت: د آفر د تضمين (بانکي تضمين) بايد په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او يا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرايط برابر داوطلب بايد لاندې شرطونه پوره کړي:

1. د نغدي شتمنيو او يا اعتباري اسانتياوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانيستنې پورې ټوليز ارزښت: ( 198,625 يوسلو اته نوی زره او شپږسوه پنځه ويشت افغانۍ)

۱۰. آفر پرانيستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسليمۍ د وروستۍ نېټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کيږي.

د آفر د سپارلو پته:

د تدارکاتو لوی امريت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړيکو شميره: 794151919 (0) 93+

برېښناليک: rahman.zarin@dab.gov

ويب پاڼه: www.dab.gov.af